# دپاکستان دملی ورځې د لمانځلو په مناسبت د پاکستان د سفیر محمد صادق د وینا لنډ متن

## ۳۰ مارچ ۲۰۱۱

د افغانستان د بهرنیو چارو قدرمن وزیر ډاکټر زلمی رسول ،

د افغانستان د کابینې محترمو غړیو، د پارلمان غړیو او قدرمنو مشرانو،

درنو میرمنو او ښاغلیو،

زما لپاره ډیر د خوښی ځای دی چې د پاکستان د ملی ورځې د لمانځلو په مناسبت تاسو ته د دلته راتګ ښه رغلاست وایم.

پاکستان او افغانستان ګډ تاریخ، ګډ فرهنګ ، ګډ جغرافیایی موقیعت او ګډه عقیده لري. زمونږ رواجونه ، ژبې ، ادبیات او قهرمانان سره یو دي. همدارنګه مونږ د سیمې د سولې ، نیکبختی او پرمختګ لپاره ګډه نظریه لرو .

دپاکستان ملي ورځ ۲۳ د مارچ هر کال لمانځل کیږی. د هغې ترون څخه یادونه کیږی کوم چې په ۱۹۴۰ د مارچ په ۲۳ نیټه په لاهور کې لاسلیک شو او له مخې یې د جنوبې اسیا د نیمه کرې پرمخ یو اسلامی هېواد وزیږېد.

افغانستان د جنوبی اسیا په نیمه کره کې د یو اسلامی هیواد په تدریجی تکامل کې مهم رول لري . اسلام جنوبی اسیا ته د منځنی اسیا او افغانستان له لارې ظهور کړی دی . د جنوبی اسیا د مسلمانانو فرهنګ ، ژبو کالیو او نظریو له افغانستان څخه سرایت کړی دی . د پاکستان لپاره د افغانستان ارزښت زمونږ د فیلسوفانو، روشنفکرانو او شاعرانو د نظر په رڼاکې په پورته ډول جوتیږي.

دا چې د پاکستان او افغانستان تاریخونه سره یو دي نو په همدې شکل د دواړو هیوادنو برخلیکونه هم سره یو دي . حتی مونږ ګډو تهدیدیو سره مخامخ یو چې هغه دي نړیوال تروریزم ، اقتصادي کمزورتیا او بهرنی فرهنګي یرغل.

ترو ریزم زمونږ ژوند او ملکیت ته ګواښ پیښولا شي او اقتصادي پرمختګ هم نابودولای شي.

اقتصادی کمزورتیا په ټولنه کې د نا آرامی په وسیله رامنځ ته کیږی او د بی سوادی او د تروریزم د رونق سبب ګرځی.

بهرنی فرهنګی یرغل زمونږ پیژندګلوی چې مونږ مسلمانان یو ، افغانان او پاکستاني یو تر ګواښ لاندې راولي.

مونږ ددې لپاره اړتیا لرو چې اوږه په اوږه سره کار وکړو او په یوازیتوب نه شو کولای چې خپل دولت او خپل خلک حمایه کړو او باید خپل ارزښتناک سیستم تر حده تقویه کړو.

پاکستان افغان ملی امنیتی ځواکونو ته د امنیت د مسولیت د سپارلو د پروسې هرکلی کوي او د ا د افغانستان مسلم حق ګڼی چې یو پیاوړی امنیتی ځواک ولري چې د خپلې خاورې ساتنه په خپل وکاندي.

همدارنګه پاکستان د سولې لپاره د مخالفینو سره د مذاکراتو په کلکه ملاتړ کوي چې هدف یې په افغانستان سوله او ثبات او اقتصادي انکشاف دی.

په دې کې شک نشته چې یو پرمختللی، باثباته ، متحد ، ټینګ او نیکبخته افغانستان د پاکستان په ملي ګټو کې نغښتې دی. او له دې څخه دمخالفو خبرو نشرول تش منافقت او بس.

پاکستان په ژوره توګه ژمنه کوي چې د افغانستان سره به خپلې اړیکې لا پیاوړې کوي . مونږ باور لرو چې زمونږ هیوادونه کولای شي تر څو یودبل په اراضی تمامی کې د عدم مداخلې په اصولو او هم یو دبل سیاسی عالی قدرت ته په احترام د درلودلو اړیکې ټینګې کړي. مونږ ژمنه کوو چې تیر شوي سو تفاهمات به لا منځه وړو او د یوې اعتباري او باوري فضا په ټینګښت کې به کوښښ کوو.

له ټولو ښاغلیو او میرمنو څخه نړۍ مننه کوم چې مونږ سره یو ځای د پاکستان ملي ورځ لمانځی . او دخپل مشر میلمه د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر زلمي رسول څخه په خاص ډول مننه کوم چې دلته یې تشریف را اوړی او ورته بلنه ورکوم چې د دریځ مخې ته راشي او خپله وینا واوروي.